د ساعت نړیواله ورځ

د روان میلادي کال (۲۰۱۶) د مارچ د میاشتي 18 مه نیټه د زمکي ساعت نړیوالي ورځي لسمه لمانځنه ده، له دغه ساعت څخه هر کال د چاپیریال ساتنې او د زمکي د طرفدارانو لخوا لمانځنه کیږي.

د زمکي ساعت یوه نړیواله پیښه ده چې د طبیعت د نړیوال صندوق (World Wide Fund for Nature) لخوا یې ملاتړ کیږي.

د زمکي د ساعت څخه د لمړي ځل لپاره د استرالیا هیواد په سیدني ښار کې لمانځنه وشوه، هغوئ غیر ضروري څراغونه مړه کړل چې له دوئ وروسته د نړۍ په نورو ښارونو کې هم د زمکي ساعت څخه لمانځنه وشوه.

په دې ساعت کې په نړیواله کچه د یو ساعت لپاره د دولتي او شخصي ودانیو څراغونه مړه کیږي.

د ملګرو ملتونو سر منشي بانکي مون د زمکي د ساعت په اړه داسي وایي: لکه د تیرو کلونو په څیر د ملګرو ملتونو ټولنې په نړیواله کچه په دغه پروګرام کې ګډون کوي، د نیویارک په ښار کې د ټولو ودانیو خصوصا د ملګرو ملتونو د ودانۍ څراغونه مړه کیږي .

د څراغونو مړه کول یو نړیوال حرکت دی چې د نړۍ په ډیرو هیوادونو کې یې د یو ساعت لپاره لمانځنه کیږي دا د هغو پیغام دی څوک چې په زمکه کې مثبت بدلون غواړي.

د هوا بدلون د زمکي د اوسیدونکو لپاره ستر ګواښ دی او د دې ګواښ سره د مقابلې لپاره باید ژر تر ژره اقدام وکړو، تیر کال د نړۍ په ۱۲۸ هیوادونو کې په سلګونه میلیونه خلکو په دغو مراسمو کې ګډون کړی وو .

د چاپیریال ساتنې ملي اداره هوډ لري چې د نورو هیوادونو سره یو ځای او د هوا د بدلون په اړه د خلکو د عامه پوهاوي لپاره یو ساعت د بریښنا څخه د ښې استفادې او د زمکي د درناوي پخاطر ټول بریښنایي توکي او څراغونه مړه کړي، دې اداري تیر کال دا ورځ ولمانځله زمونږ دغه کار ښیي چې مونږ لکه د نړیوالو په شان غواړو چې بریښنا وسپموو او د پاکو سون توکو څخه استفاده وکړو، د زمکي له ککړتیا څخه ډډه وکړو او د زمکي د پنډغالی د ګرمیدو سره جدي مبارزه وکړو تر څو مونږ او راتلونکي نسل لپاره د ژوندانه ښه زمینه برابره شي، نو راځئ چې په یو ساعت تیاره، نړۍ د راتلونکي لپاره د ځلا او روښانتیا شاهده وي.

د چاپیریال ساتنې ملي اداره